# The Folkloric Study of Bannu (Folk Songs and Proverbs)

# د بنو فولکلوري مطالعه (اولسي سندرې او متلونه)

Rozina Gul*

**Abstract:**

**Folklore** is the collective wisdom of people framing a specific structure of life's related practices of a specific culture and geography. The compound word of English "Folklore" derived from "Folk" people and "Lore" wisdom, first used by William John Thomas in ۱۸۴۶. This compound word is prior to Culture word ۲۰ years earlier. Folklore was first used for habits, customs, myth, songs and provebs. Culture isn't a natural framed structuralism but evolved in a society by social practices and experiences. The structures evolved in a society are resultantly acceptable norms, values, traditions and customs along with instruments of farming and wearing.

Bannu folklore comes within the domain of Pashtuns' belt but along with similarities, it keeps something related to the Bannu's locality and region which in fold adding varieties of folk songs and idioms to Pashto Folklore. These specific varieties enrich Pashto Folklore in terms of native expeditions, romance, events and every day happenings ever held on this region and stored in the collective memory. These happenings could flourish the names of men, towns, villages, streets, tombs, fields, weddings and grievances.

This paper is solely adding Bannu's related folk songs and idioms to Pashto literature.

**Keywords**: Folklore, Folk songs, Folk proverbs, Collective Wisdom

فولک لور یوه مرکبه کلمه ده چې د فولک او لور نه جوړه ده- د "فولک" نه مطلب خلق او د "لور" نه مطلب پوهه ده- د فولک لور ادب ویونکي او لیکونکي معلوم نه یو بلکې دا په شفاهي حواله د یو کس نه بل کس ته منتقل کېږي او محفوظ کېږي- په اوسني دور کښې

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshwar

هم داسې فولک لور شته چې هغه راغونډل او محفوظ کول غواړي- فولک لور د خلقو په حافظه کښې خوندي پروت وي او سينه په سينه راروان وي- تحقيق کونکي د يو خاص کلتور اجتماعي کلتوري حافظه راغونډولے شي او خپل ځانګړي ادب کښې ئې خوندي کولے شي-

پوهنوال دوکتور لعل باچا ازمون د فولکلور تعريف "په پښتو فولکلوري ادبيات " کښې داسې ليکي!

"د ژوند ټول کړه وړه په فولکلور کښې رانغاړي- فولکلور له دوو نومونو څخه رغېدلې، خلک او پوهه، ترکيبي مانا ئې د خلکو پوهه ده- د خلکو په پوهه کښې د ژوند هغه تجربې راځي چې د خلکو له پوهې رازيږېدلي وي-"[۱]

د پښتو ادبياتو يوه پروفېسر داور خان داؤد د فولکلور په حقله ليکي!

"فولکلور د انګريزۍ ژبې يوه مرکبه کلمه ده چې دوو کلمو فولک "Folk" او لور "Lore" نه جوړه ده- د فولک لغوي معنٰي ده اولس يا خلق او د لور لغوي معنٰي ده پوهه يا زده کړه- دا شان د فولکلور د دې مرکبې کليمې معنٰي شووه، د خلقو يعني د اولس زده کړه يا پوهه ده-"

فولکلور د ټول اولس مېراث دے او دا ورثه مونږ د خپلو نيکونو او پلارونو نه راپاتې شوې ده- کله چې مونږ د يو قوم مطالعه کول غواړو نو د هغه قوم کړه وړه، عقائد، غم او ښادي، مړي او ژوندي، رواياتو او داسې د نور ډېر څه کتل غواړي- د دې اوصافو و اقدارو نه د يو قوم د ژوند مختلف اړخونه څرګندېږي-

د بنو تاريخي پس منظر:

ضلع بنو د خېبر پښتونخوا يوه ډېره ښکلې، زرخېزه او ډېره ارزښتناکه سيمه ده- د تاريخ په مختلفو دورونو کښې دا سيمه د تاريخ په پاڼو کښې ياده شوې ده- د نړۍ مختلف فاتحين د بنو په لاره تېر شوي دي- په تاريخي حواله بنو د بابر زمانې نه واخله ته اوسني وخت پورې د مختلفو بهرني فاتحينو ګزرګاه پاتې شوې ده- له دې امله دې سيمې ته زيات زيان رسېدلے دے-

د بنو وجه تسميه:

د بنو وجه تسميه په باره کښې مختلفې نظريې وړاندې شوي دي- په دې کښې يوه مفروضه نظريه "بن" دے چې حقيقت ته نزدې ښکاري- د "بن" نه مطلب "بڼ" دے چې د ځنګل مطلب ترينه اخيستلے شي- د عربو په تاريخ "تاريخ البلدان" کښې په عربۍ ژبه کښې "بنه"

لیکلے شوے دے چې مطلب ئې ځنګل دے- د بنو وجه تسمیه یو بل نظر د بنو اولس جد امجد نوم د "شیتک" د دریو ښځو نه د یوې ښځې "بانو" سره تړلے شي چې په دې نسبت د بنو نوم د بانو نه بنو شو- مګر پروفیسر شمشیر علي په خپل کتاب "بن باس" کښې دا نظریه رد کوي او وائي چې په هغه وخت کښې د ښځو په نوم د یو ځاے نوم ایښودل غیر منطقي ښکاري- هغه لیکي!

*"میرے نزدیک یہ مفروضہ نہایت لغو گمراہ کن ہی نہیں بلکہ رسوا کن بھی ہے۔ یہاں سوال یہ پیدا ہوتا ہے کہ باقی دو بیویوں کے نام صفحہ تاریخ سے محو کیوں ہیں؟ صرف بانو نامی خاتون کی تشہیر کیوں ہیں؟ صرف بانو نامی خاتون کی تشہیر کیوں ہوئی؟[۲]*

ترجمه:

"زما په خیال دا مفروضه ډیره خرابه او د ګمراهۍ مفروضه ده بلکې د رسوائي سبب ده- دلته دا سوال پیدا کیږي چې د نورو دوؤ میرمنو نومونه ورک شو او د یوې نوم د بانو تشهیراوشو-صرف د بانو د نوم تشهیر ولې اوشو-"

د پروفیسر شمشیرعلي خان سره اتفاق ځکه نه شي کیدے چې پښتو ادب کښې د ښځو نومونه د شروع نه راروان دي- مګر دا کلیمه د بانو په هغه وخت کښې رواج لرلو ځکه چې دا نوم هم د پښتنو خپل نه ښکاري بلکې مستعار ښکاري- د "بن" یا "بڼ" نوم حقیقت ته نزدې ښکاري چې د پښتو خپل لفظ دے-

د بنو ځائي فولکلور:

بنو سیمه په ادبي حواله ډیره زرخیزه ده- په دې سیمه کښې ژوند خپل رنګونه لري- په کلتوري حواله د دې ځاے د خلقو ژوند کښې هغه رنګینۍ دي چې د پښتنو په نورو سیمو کښې په نظر نه راځي- په دې سیمه کښې ژوند غورځنګونه وهي او اولس ئې په کمو وسائلو کښې ښه خوشحاله ژوند کوي- په نن سبا وخت کښې د دې یو مثال د بنو د مازدیګر دے- په بنو کښې هره ورځ اختر وي او د ډهولونو او سرنا سماع وي- د بنو او ګیر چاپیر خلق د ښادۍ او وادونو په لمانځلو کښې په مازدیګر کښې د بنو سیل کوي او تماشې کوي- دا کلتوري رنګ صرف بنو ته مختص دے چې د رنګین ژوند یو اړخ وړاندې کوي-

د بنو ځائي فولکلوري ادب کښې په اولسي سندرو او متلونو کښې د بنو او بنو سره تړلي ګیر چاپیر ماحول عکاسي شوې ده- د بنو د خلقو، کلیو، خیلونو، زیارتونو، رسمونو،

رواجونو، عقیدو او توهماتو په سندرو او بدلو کښې یادونه شوې ده چې د بنو فولکلور څرګندونه کوي او دا ښکاره کوي چې دا فولکلور صرف د بنو سره اړه لري- په دې نومونو کښې د سړو نومونه معزالله خان، داکس خان، باباصېب، امیر، ټیکي، سخي سرور، میر سلیمان او صالح خان شامل دي- د کلیو، زیارتونو او خېلونو په نومونو کښې داکس خېل، فاطمه خېل، کرمه، کم بازار، هوید، پښتانه، مغل، وزیر او امندي شامل دي- د دې نه علاوه د جنګونو، رسمونو، رواجونو او عقیدو په حقله هم فولکلور شامل دے-

د بنو فولکلوري ټپې

د بنو فولکلوري ټپې په ساخت او هئیت کښې د نورې پښتونخوا سره یو شان دي مګر کلتوري او واقعاتي ځانګړتیاوې لري- په دې ټپو کښې بنو سره تړلے فولکلور یاد شوے دے- په دې ټپو کښې بنو سره ګېر چاپېر ماحول یادونه شوې ده- په دې ټپو کښې د بنو اولسي رنګ غالب دے چې د نورې پښتونخوا د سیمو نه جدا رنګ لري او پښتو ادب کښې اضافه کوي-

ـه معزالله خان چې تله آرمون ئې اوکه
چې نه مې زائي شته نه مې لیر لیبې کوینه[۳]

ـه دې چیلې سر ته مې دربیلې
څه روکوې که ورکه وې مې دې وطنه[۴]

ـه پیزوان په کرمه کښې جوړېږي
د پېښور زرګره مات دې شه لاسونه

ـه زه په کوسیر ساړي پئیژه
چې دې چیلې په خلیئې څون مخشیله وینه[۵]

ـه یو مې په کټ شي کوټکون دے
یو مې جانان غمینه خولې ارلګوینه[۶]

ـــ ویړکیئې خبره ئې که نه ئې
مېر دې لګیا دو پیغلتیب دې ړنګه وینه[۷]

ـــ په ونه چیګ ساړائې وې یور که
چې نیشتي روشي بیا وې بیرې په کاوونه[۸]

ـــ په کرمه پیرې وودہ نه شې
دې اوربخلې زینډي دې کرمه زړاوینه[۹]

ـــ په کړمې آرپیرې شه طبیبه
که دې فلانکي خان دې رنځ دوري درسره وینه[۱۰]

ـــ په کم بازور ورګډه مه شې
دا فلانکي خان کېر ته مې والیئې دي کونجیئې[۱۱]

ـــ پرېږده چې دواړې لیواني شي
په زیارتې وې شیراوي ګاګر سرینه[۱۲]

ـــ ډېره ویته چیته مه سه
دې اوبخلې توې دې موسکڼلیئې دینه[۱۳]

ـــ آرسه چې بابا صېب ته لوړ شي
ډېر ګړاندئې ده سوول په لیارې قبلوینه[۱۴]

ـــ پروینې پریوتل، تلې ارچیګې شولې
دې مو بدمعاشه یاره، تشته کنې کشې وتلې[۱۵]

د بنو فولکلوري سندرې

ــہ دې زړۀ مراد مې وې الله پيرا کوينه
هره اودينه وې ميژ بابا صېب ته ځينه[16]

ــہ جلي زائرې
په ليار شې نوسته ملغلرې دې پېئلې
جلي زائرې
دې پلور کېر نه دې زړه نه شي
دې فلانکيئې ګرېوُن ته وچاوه منګلوې

ــہ بالې زم دا دې ميرې
دې دا کس خيلې په کېرې
دا کس خپل چې سره يوه کو
ديشمن وې اوړوي په غرې[17]

په تاريخي حقله په جمالياتي ذوق کښې پښتانه او مغل يو شان رجحان لري- که يو طرف ته مغل د پښتنو د ښځو په حقله رجحان لري نو بل طرف ته پښتانو هم په خپل فولکلوري سندرو کښې د مغلو، هندوو او سکهانو ذکر کړے دے- د بنو په خالص لهجې کښې د بنو د فولک راغونډولو هڅه شوې ده چې يوه قطعه ئې ډېره تاريخي او تحقيقي بڼه لري مګر د دې سياق او سباق اوس هم پته نه لګي- دا قطعه څه په دا رنګ ده-

ــہ دې پوسه روغلې څلېر بلبلې
دوې پشتنې او دوې اصلي مغلې
دې پشتنې سره مې خولې خبرې
زړه مې مئين ده په اصلي مغلې[18]

ــہ ته ړنګه شې مونښئې
چې تو نوم ده بنګوليئې

امیر پہ تو شې پرېت دہ
سرې پاوښې سپینې پنډ یئې[۱۹]

ـہ بابا صیبہ یار مې لیوانائي دہ
چې خدائي ئې ریغ کو
دې تو زیارت مې منلہ چریکائي دہ
چې خدائي ئې ربغ کو[۲۰]

ـہ کرمې پلہ روخلہ قدمینہ
لیګې مائرې دي خدائي سولینہ قبلوینہ
کرمې پلہ روخلہ قدمینہ[۲۱]

ـہ څہ لولیہ ټاون تہ وې ځینہ
سبو جیمہ دو چې چکر ولګوینہ
څہ لولیہ ټاون تہ وې ځینہ[۲۲]

ـہ فاطمہ جناح پہ څالاړ نیمې بجې باني تہ آرسي
دو دې وربر میروث ګټې خو قسمت ئې خاندانائي دہ
کم عقلې خلقې تہ عقلینہ ورشائي[۲۳]

ـہ دې مو دې زړہ بازور دے رنګ کہ خیولې هندوې
تہ ار شکورہ کہ سپېن بشر پہ جیورې هندوې
دې مو دې زړہ بازور دے رنګ کہ مسلمونہ نہ شوې
پلور پہ اغہ بعیہ لرلې تہ اسونہ نہ شوې
ټیکې پہ خدائي دے او چې تہ خو کلیمہ اووایہ
تہ کلیمہ دې محمد رسول اللہ اووایہ
دې مو دې زړہ بازور دے رنګ کہ خیولې هندوې[۲۴]

ـه ظالمې کرمې چې ئې ئې نسې
ډېر غریبون دي دیئې عید مبارکیئې ته روان دي
ظالمې کرمې چې ئې ئې نسې[۲۵]

ـه چاوک پیپل لوندې دې ننه
ټول د کس خېل پنډ دي
ایمره قیصه نه کو
چې دا کس خان وې ار اوراسینه
چاوک پیپل لوندې دې ننه[۲۶]

ـه سخي سرور میر سلیمان خورې ته ځینه
بندي ټیپاک په لګیدلي دي ډازینه
خاونده ویر کې مستې خورې جنتینه[۲۷]

ـه بادشاه وزیره
ته چې خدائي مئین کړې
دې سرکونډي په زیارتینه
ټېر پړکائي په مله که
او ټیکي وړه وه په غرینه
ټپه: بادشاه وزیره ډېرې لیښې پلور شې
چې غمجن ګرزې مئینه[۲۸]

ـه په د لوړ ایجره دې چا دو
چې په پنزراک ئې جوړه وینه
پوسه نوم دې ضحاک خان دے
تمبې دې زرې ورو چاوینه[۲۹]

د بنو فولکلوري متلونه:

د پښتو متلونه یوه لویه پنګه لري چې اکثر مشرانو ښځو او میرمنو ته زباني یاد وي او د ژوند په روزمره خبرو اترو کښې د دې متلونه کارونه کوي- دې کښې اکثر متلونه فولکلوري بڼه لري او د اولس په حافظ کښې خوندي شوي وو چې د دې خوندي کولو هڅې هم شوي دي او پښتو فولکلوري پنګه کښې د دې څه برخه خوندي شوې هم ده- د بنو متلونه هم یوه ځانګړتیا لري چې صرف د خپلې سیمې ترجماني کوي- دا متلونه د بنو سیمې سره تړلي واقعات او پېښو په نتیجه کښې مېنځ ته راغلي دي- دا متلونه د پښتونخوا د نور سیمو نه بیخي ځان ته یو رنګ لري چې د بنو د سیمې عکاسي کوي- دا متلونه د بنو په مقامي لهجه کښې وړاندې کړي شوي دي چې خالص د هغه سیمې ترجماني کوي- په دې متلونو کښې د بنو د سیمې خالص لفظونه او لهجه کارولې شوې ده چې د پښتو په فولک کښې اضافه کوي- په دې متلونو کښې د بنو د سیمې ځایونو او خېلونو ذکر شوے دے چې د دې سیمې خالص فولک ګڼلے شي-

- ژبې نه وي پام، جل ئې په ورخو کو[۳۰]
- په غولې دې ګېداړ مېړ ده-[۳۱]
- ونه چې زړه شي بیا د هرې بالو په شپه شي-[۳۲]
- څه ووایه وار دې جوړ ده-[۳۳]
- په یویئې کرالیئې، په ناؤ خاتالیئې-[۳۴]
- پنګڼ ئې کندې ته کو، چیتر ته ئې واشې ته کو-[۳۵]
- څه بښېر وړه څه وربر وړه-[۳۶]
- دې شوغلې مرګ دې غیولې دې لوسه وي-[۳۷]
- شه ئې تل وي، بد ئې سترګې په ځنبل وي-[۳۸]
- اودس ئې اوشو-[۳۹]
- دې غره نه زه روغل، کوښې ته ارټانګوې-[۴۰]
- ایژه په رېشه جوات وي-[۴۱]
- خپل ګناه دې دوې ولیئې په منځ شې ده څبک ئې نه وینې-[۴۲]
- دېشمن دې وره وایه خو دې غره ئې مه وایه[۴۳]
- دا خو دې وزیر کړزائي ده-[۴۴]

یو بنوڅي او یو وزیر ملګري وو- د بنوڅي کوټه ړنګه شوه- وزیر ورته اووئیل چې ماسره یو کړزائي ده هغه بیا دې چت ته وېر که، بنوڅي هغه کړزائي چت ته ورکه او د بنوڅي کوټه ټیک شو- بیا به هره دومه درېمه ورځ وزیر بنوڅي کره راتلو او ورته وئیل به ئې چې یاره بنوڅیئې (بنوڅیه) که دغه کړزائي نه وه بیا وې دې چت تم نه وۀ او بیا به ئې چاے اوبه اوکړل او بیا به لاړو او دغسې به هره ورځ راتله او دغه خبره به ئې ورته کوله چې یاره بنوڅیه که دغه کړزائي نه وه نو چت به تم نه وۀ او ډوډۍ به ئې اوخوړه او بیا به لاړو- اخر یوه ورځ بنوڅي چهت راوچوه او کړزائي ئې وزیر ته وېر کړو چې دا دې کړزائي او هغه دې لار ده-

- چې ژاغ کوي بیا کله ده، کني کونډي زائي خو ئې سکاوولہ ده-[۴۵]
- لاړم ته چا وئیل چې براګ روخله، ده ورته وائیل چې په ایژه مې ده-[۴۶]
- څۀ فاطمې خېلې سپي لېبه درباندې اوشوه-[۴۷]

دې متل کښې وائي چې فاطمې خېل کلي کښې خېرات وۀ او ورسره یو بل کلي کښې هم خېرات وۀ- سپي په سوچ کښې شو چې اول کوم خېرات ته لاړ شم- بیا ئې فېصله اوکړه چې ړومبے به د پردي کلي خېرات اوخورم- خپل کلے خو هسې هم د سینې لاندې دے- سپے چې هغه کلي ته اورسېدو نو هلته خېرات ختم وۀ بیا ئې زر خپل کلي ته منډه کړه او چې کلي ته راورسېدو نو دلته هم خېرات ختم وۀ- دغه شان د لالچ د وجې دواړو خېراتونو نه پاتې شو-

- دا خو دې امندیئې مشه ئې چې دوې غوړې وائې-[۴۸]
- څه دې صالح خان سپي اوخسته ئې-[۴۹]
- بال بال کلي خبره وي، خسې پسې کلي ړنګوي-[۵۰]
- ګینګټه خورې کنه، خورې دې په کونه-[۵۱]
- دا موتې مې درپوتې خو چې نېره نه شي موتې-[۵۲]
- ډېل په سامه ژاغېژي، وزېر په غره یامېژي-[۵۳]
- ابر په سامه بلېژي او وزېر په غره تاودېژي-[۵۴]
- خداے نه هر سرائي ډرېژي خو شابړي کلي غول ورنه سي-[۵۵]

وائي چې یو مسافر په شابړي کلي تېرېدو- په دې کلي کښې د پیرۍ او مریدۍ چرچه وه او هر سړے به په تېز اواز سره د کلیمې ذکر کولو- هر څوک به چې د کور کلي یا پټي نه

اوزګار شو نو دغه شغل کښې به مصروف شو- يو کس په پټې کښې يوي کوله نو هغه هم په ذکر کښې مصروف وۀ او يو بل راغلو او تېز تېز قدمونه ئې اوچت کړو او فراغت دپاره کښېناستو او په يو وخت کښې دغه دوه کارونه کولو- مسافر پوه شو چې په دوي د خدا ے د وېرې اثر دے- د دې وېرې نه دوئي ته ضرورت پېښ شو او په دې ضرورت کښې هم د خدا ے ذکر نه غافل نه شو- مسافر اووے چې خدا ے نه خو هر څوک وېرېږي خو د شابړي کلې واله ترېنه غول اوځي- دې واقعې ته پروفېسر شمشېر علي په خپل کتاب بنو نامه متالونه او مثالونه کښې په صفحه نمبر ۱۱۱ بيان کړے دے-

- دا خو دې هوېدې مړه ده-[۵۶]

هويد د بنو نه لرې يو کلے دے- په خوا وختونو کښې به په تلو راتلو کښې ښار ته خلق کم تلل او خاص کر کله به چې څوک مړ شو نو د هغۀ کفن دفن دپاره به ښار ته تلل ضروري وۀ- په دې کښې به ډېر وخت لګېدو او مړے به ډېر ناوخته دفن کولے شو- په دې متل کښې دغه حال بيان شوے دے-

- په وېږګي واړې پخوي-[۵۷]
- نه تيت ده او نه بيره-[۵۸]
- وطن سمسېرې ډاډ که، ختې دې منګېرونې اوخاتې- [۵۹]
- نوا د ملک شي کله د الک شي- [۶۰]
- په نه غوشے د اوزي، اغه په نهې کليئي پرېوځي-[۶۱]
- ميتا خضر ئې په نس لوس واله ده-[۶۲]
- ميېټ دې ماسيه دي- [۶۳]

تحقيقي جائزه:

د پښتو ادب فولکلور کښې اکثر د هغه ځايونو او واقعاتو ذکر موجود دے په کومو کښې چا کار کړے دے او ډيټا ئې راغونډه کړې ده- د دې نه دا ښکاره کېږي چې په کومو سيمو کار شوے دے نو د هغو سيمو فولکلور محفوظ شوے دے- له بده مرغه د بنو په فولکلور تر اوسه چا خاطر خواه کار نه دے کړے او داسې ښکاري چې د دې فولکلور يوه لويه برخه ضائع شوې ده- ځکه چې د ډيټا راغونډولو په وخت کښې ما ته داسې انکشافات اوشو چې ځيني مېرمنو د فولک لويه پنګه لرله مګر اوس حيات نه دي او هغه پنګه د هغوئي مرګ سره ختم شوه چې د پښتو ادب ته لوے زيان اوشو- په دې بنو فولک لور کښې داسې

ټپې او سندرې شته چې بيخي د بنو سره تړاو لري او د هغه ځاے خپل فولک لور دے- دا فولک لور په مقدار کښې زيات دے مګر د دې راغونډولو هڅې کول په کار دے- په دې فولک لور کښې د بنو کليو، خيلونو، ځايونو، سيندونو، رسمونو، رواجونو، عقيدو او توهماتو يوه لويه پنګه موجوده ده- په جنوبي سيمه کښې بنو يو تاريخي ښار پاتے شوے دے او دې ښار سره د تحريکونو يو تړاو پاتې شوے دے- په دې فولکلور کښې د هغه تحريکونو لا نوره فولکلوري پنګه هم شته خو د دې راغونډولو دپاره ګړندۍ هڅې په کار دي چې د زيات عمر خلقو سره مرکې اوشي او دا ډيټا ضائع نه شي- د بنو فولکلور خالص په بنو لهجه کښې راغونډ کړے شوے دے ځکه چې که دا په بله لهجه کښې اوليکلے شي نو بيا په شعرونو او تذکير او تانيث کښې فرق راځي- دا خالص د بنو فولکلور دے او ځکه په هغه لهجه کښې راغونډ کړے شوے دے په کومه کښې چې خوندي کړے شوے دے- د دې فولکلوري سندرو په لوستلو کښې به اکثر لوستونکو ته دقت راځي مګر دا ارادتاً داسې کړې شوي دي چې په مقامي لهجه کښې راغونډ کړے شي- که لوستونکي هڅه اوکړي نو د لهجې خوند به هم محسوس کړي او د بنو فولکلوري سندرو او متلونو نه به هم مزه واخلي-

وړاندېزونه او سفارشات:

د بنو فولکلور د خلقو په سينو کښې پروت دے او د دې راغونډلو دپاره د بنو خلقوسره ليدل کتل پکار دي او د ډيټا په ذريعه دا فولک لور راجمع کول په کار دي- دا ډيټا ما زياتره د ښځو نه راغونډه کړې ده او دا ډيټا د يو څو کليو بانډو ښځو نه راغونډه کړې شوې ده- ښکاري داسې چې که بل چا هڅه اوکړه نو د نورو کليو او بانډو نه به نوره ډېره هم ترلاسه شي چې د پښتو فولکلور دپاره به مثبت ثابته شي- په کليو او بانډو کښې اوس هم د زيات عمر مېرمنو سره خواره مواد موجود دے چې ډېر زيات ارزښت لري- که د بنو سيمې سره تړاو لرونکو تحقيق کونکو هڅه اوکړه نو دا فولکلوري پنګه به نوره م زياته او درنه شي-

# References

[1] Azmon, Lalbacha, Dr. Pakhto Folklori Adabyat, Yar Khparanduya Tolana Ishaqzai Market Jalalabad City, 1397, P 35
[2] Khan, Shamshir Ali, Dr.Ban Bas (Bayan e Bannu) Decent Publishers Muhallah Jangi Peshawar City, 1999, P 2
[3] Interview with Rasheeda Apa, Bazar Ahmad Khan, 20th May 2019
[4] Ibid
[5] Interview with Apa, Ghuriwala, 16 June 2020, at 12pm
[6] Ibid
[7] Ibid
[8] Ibid
[9] Ibid
[10] Interview with Bibi Ayesha Apa, Bazar Ahmad Khan, 18th July 2020, at 8am
[11] Ibid
[12] Interview with Hameeda Apa, Daud Shah, 12th March 2021 at 4 pm
[13] Ibid
[14] Ibid
[15] Interview with Dulha Bibi, Bazar Ahmad Khan, 17th July 2018 at 6:45 pm
[16] Interview with Hameeda Apa, Daud Shah, 12th March 2021 at 4 pm
[17] Interview With Sufilat, Jando Khil Adami Ayub Khan, 31st May 2021, at 11am
[18] Interview with Dilha Bibi, Bazar Ahmad Khan, 17th July 2018 at 3pm
[19] Interview With Shabnam Rafiq, Kotka Shirzad, 16th July 2018, at 9:40am
[20] Interview with Hameeda Apa, Daud Shah, 12th March 2021, at 9:30am
[21] Interview with Apa, Ghuriwala, 16 June 2020, at 10:20am
[22] Ibid
[23] Ibid
[24] Interview With Shabnam Rafiq, Kotka Shirzad, 20th May 2021, at 11:30am
[25] Ibid
[26] Inteview With Rafia, Kotka Shirzad, 12th Mach 2021, at 10am
[27] Interview With Miss Mumtaz, Kotka Ghareeb Abad, 17th April 2021 at 2:30 pm
[28] Interview With Shabnam Rafiq, Kotka Shirzad, 20th May 2021at 9:40 am
[29] Interview With Yasmeen Adey, Bazar Ahmad Khan, 20th June 2020 at 4:45 pm
[30] Ibid
[31] Ibid
[32] Interview With Saria Bibi, Kotka Shirzad, 7th March 2019 at 11:30 am
[33] Interview With Miss Mumtaz, Kotka Ghareeb Abad, 18 May 2020 at 4 pm
[34] Interview With Abdul Mateen, Bazar Ahmad Khan, 22 September 2019 at 6pm
[35] Interview With Miss Parveen, Bozakhil, 13th August 2019 at 3:45 pm
[36] Interview With Bajona Apa, Kotka Shirzad, 11th December 2021 at 4 pm
[37] Ibid
[38] Interview with Yasmeen Adey, Bazar Ahmad Khan, 15th September 2020 at 3 pm

[39] Interview With Miss Sabira, Bazar Ahmad Khan, 17th October 2020 at 6:15 pm
[40] Interview With Sarwar Jana Adey, Bazar Ahmad Khan, 11th April 2018 at 10:30 am
[41] Interview With Bakht Sultana Apa, Bazar Ahmad Khan, 17th July 2020 at 4:45 pm
[42] Ibid
[43] Ibid
[44] Interview With Miss Mumtaz, Kotka Ghareeb Abad, 18th May 2020 at 2:30 pm
[45] Interview With Qaisar Khan, Bazar Ahmad Khan, 22nd March 2020 at 1:30 pm
[46] Ibid
[47] Ibid
[48] Ibid
[49] Interview With Miss Sadaf, Kotka Shah Jahan Shah, 14th October 2020 at 5:15 pm
[50] Interview With Miss Fazal Royan, Bazar Ahmad Khan at 10:10 am
[51] Interview With Shabnam Baji, Kotka Shirzad, 25th August 2020 at 11 am
[52] Ibid
[53] Ibid
[54] Ibid
[55] Ibid
[56] Interview with Naveed, Kaki, 5th December 2019 at 3 pm
[57] Ibid
[58] Ibid
[59] Interview With Kishwara Apa, Ghuriwala, 11th September 2020 at 2 pm
[60] Ibid
[61] Ibid
[62] Interview With Pawzadi Apa, Shehbaz Azmat Khil 1:30 pm
[63] Interview With Miss Zeeshana, Shehbaz Azmat Khil, 15th April 2019 at 9:45am